چمتو والي کچه

# د انا عینکې

storyweaver PRATHAM BOOKS

التعليم فوق الجميع | education above all



**لیکوال:** روهیني نیلیکاني
**انځورګر:** تانیا ویاس

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



انا هر وخت خپلې عينکې ورکوي.
”چېرته مې ايښي؟“ هغه تل پوښتنه کوي. د خپلو عينکو پرته، هغه خپلې عينکې نه شي پيدا کولای.



نو هغه ما ته اړتيا لري. چې د هغې سترګې شم، چې د هغې خپلې سترګې پيدا کړم!



کله کله د هغې عینکې په تشناب کې وي. یا د هغې په بستره کې وي. یا د هغې په سر باندې وي.
"انا، عینکې خو پاس په تندي دي!"، زه ورته وایم.



”هو، بالکل! ځومره بې فکره یم. ډېره مننه حسنا جانې،“ هغه په خندا جواب راکوي. دا ځل
خو زه هم د انا عینکې نه شم پیدا کولای. تر اوسه نه یم توانېدلې.



ما هر ځای لټولی دی. په ټولو معمول ځایونو کې. د هغې په سر، په تشناب کې، د هغې په الماری کې، او په جانماز کې هم. ما د هغې د خوښې څوکې لاندې او د خوړو مېز د پاسه هم کتلې دي.
نشته. د عینکو درک نشته دی. چېرته به وي؟



ما د یوې ماهرې کشفوونکې جوړېدلو پرېکړه وکړه. ما د هغه څه پیدا کولو پرېکړه وکړه چې هغې ټوله ورځ کړې وو.



”ما نن ډېر څه نه دي کړي.بس دومره چې د
حسينې خواښې راغلې وه، ستا پام دی. او هغه
څومره ډېرې خبرې کوي! مونږ ډېرې پيالۍ چای
وڅښلې. او هغې ټولې کلچې چې ستا مور جوړې
کړې وې، وخوړلې،“ انا وويل.



نسیم ویل، ”انا نن ډېره بوخته وه. هغې نن د خپل تقاعد پیسو په هکله د ولایت والي ته یو لیک هم ولیکه.“



مور وویل، ”هغې ستا خاله سره ډېر وخت خبرې وکړې. هغې د نسیم لپاره د بنیان اوبدل سر ته ورسول. او هغه بیا د لنډ وخت لپاره د ګرځېدو لپاره ووته.“

اوس ما خپل معلومات درلودل. ماپه چټکۍ سره په کور کې نوي ځایونه وکتل.

بخ بخ! ما ورکې عینکې پیدا کړې دي.



عبنکې د هغې په وړیو کې تاوې شوې وې چې د هغې په مېز، د ټیلیفون لاندې د هغې قلم ته څېرمه پرتې وې. ما یوه نیمه خوړلې کلچه هم پیدا کړه.
د انا د زوکړې ورځ لپاره، زه به د عینکو د یوې اضافه جوړې لپاره پیسې سپموم!

## لاربښودونکې پوښتنې

1. ولې نیا مرستې ته اړتیا لري؟ څوک نیا سره مرسته کوي؟
2. حسنا څنګه توانیږي چې خپلې نیا سره د هغې د عینکو په موندلو کې مرسته وکړي؟
3. ستاسې په کور کې څوک دی چې کله کله مرستې ته اړتیا لري او ولې؟
4. آیا تاسې له خپل نیا او نیکه سره اوسیږئ یا کله لکه د هغوی لیدلو ته ورځئ؟ ستاسې نیا او نیکه څنګه دي؟
5. د نیا او نیکه درلودل کوم تر ټولو ځانګړی نعمت له ځان سره لري؟